مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د اگسټ لسمه | ۵۷۸یمه گڼه

# د لويې جرگې وروستۍ پرېکړه؛

## ولسمشر غني: د طالبانو پاتې بنديان به خوشي کړم او بين الافغاني خبرې به پيل شي



۳

جرگې؛ بين الافغاني خبرو ته لاره هواره کړه؟ ۲ مخ

د افغانانو خپلمنځي مذاکرات؛ ياني څه؟ ۲ مخ

د افغانستان په ستراتېژيکو مسايلو کې امريکا چېرته قرار لري؟ ۳ مخ

## حامد کرزی: ښکېلې خواوې دې جگړه ودروي او د سولې لپاره له غوره فرصت دې گټه پورته کړي

پخواني ولسمشر حامد کرزي يو ځل بيا له طالبانو وغوښتل چې له جگړو لاس پر سر شي او د خپل هېواد د سوکالۍ لپاره سوله وکړي. پخواني ولسمشر تېره ورځ د سولې په مشورتي لويه جرگه کې د خبرو پر مهال وويل چې دلته روانه جگړه يوازې د افغانانو د تباهۍ او بربادۍ جگړه ده، نو طالبانو ته په کار ده چې له فرصته په استفادې له افغان حکومت سره خبرې پيل کړي او په صادقانه توگه د جگړو د ختمولو لپاره لاس پر کار شي. نوموړي پر افغان حکومت هم غږ وکړ چې جگړه کمه کړي او د سولې لپاره خپلې هڅې نورې هم ډېرې کړي. ښاغلي کرزي د سولې مسايلو په اړه وويل چې د سولې په خبرو کې به د تېرو کلونو پر هېڅ لاس ته راوړنه معامله نه کېږي، د ښځو حقوق به خوندي وي، ښوونځي به پرانيستي وي، جگړه به ختمېږي، د ابادۍ کارونه به کېږي او افغانستان به د پياوړتيا او پرمختگ پر لور روانېږي.

دا په داسې حال کې چې تېره ورځ د لويې مشورتي جرگې وروستۍ وه. د دې جرگې غړو او گډونوالو په يوه غږ د ۴۰۰ طالب زندانيانو د ازادۍ او په هېواد کې د سرتاسري سولې پرېکړه وکړه او پر ښکېلو لورو يې غږ وکړی چې ژر تر ژره دې بين الافغاني خبرې پيل کړي.

## په افغانستان کې به تر راتلونکي نومبر مياشتې پورې د پوځيانو شمېر پنځو زرو ته راکم کړو



۲ مخ

ولايت


۴ مخ

## کاپيسا

د دې ولايت ډېری سيمې غرنۍ دي، د کرنې لپاره لږ هوارې ځمکې لري، خو په تگاب، نجراب او مرکز کې د انارو، جلغوزو او انگورو پراخو باغونو د دې ولايت د خلکو په اقتصاد ښه اغېزه کړې ده.



## کرنې وزارت: د ننگرهار په شېرزادو کې ٦٦ شنې خونې گټې اخيستنې ته وسپارل شوې



د کرنې او مالدارۍ وزارت د ننگرهار په شېرزاد ولسوالۍ کې د لوړ ارزښت لرونکو کرنيزو محصولاتو د دودولو او د کوکنارو د کرکيلې او توليد د مخنيوي په پار ۳۰ لويې شنې خونې نارينه‌وو او ٣٦ کوچنۍ شنې خونې ښځينه بزگرو ته جوړې کړې دي. چارواکي وايي، په کرنيز سيستم کې له شنو خونو څخه لاسته راغلي حاصلات گټور، خوندور او په بازار کې هم ډېره گټه د کروندگرو په برخه کوي.

له دغو شنوخونو څخه برخمن شوي کروندگر وايي، چې له خپلو شنوخونو څخه په يوه کال کې څو ځلې حاصل راټولوي او په لږ خوارۍ سره ډېره گټه تر لاسه کوي. شنې خونې، چې د حرارت د کنټرول لپاره له پلاستيکه جوړېږي، اوس د شېرزاد ولسوالۍ د بزگرانو لپاره د سرو زرو د خزانو ارزښت لري. دوی وايي، د شنوخونو په پراختيا سره کولای شي چې د خپلې ولسوالۍ د اړتيا وړ سابه توليد او ان د ننگرهار نورو ولسواليو ته هم وخت په وخت کرنيزې توکي ورسوي.

## وزارت صحت عامه: تعداد مبتلایان ویروس کرونا در افغانستان تا اکنون به ۳۷۱۰۶ تن افزایش یافته است



وزارت صحت عامه دیروز از ثبت ۳۷ واقعهٔ جدید بیماری کرونا در یک شبانه روز گذشته در ۹ ولایت کشور خبر داده می گوید که در۲۵ولایت کشور هیچ واقعهٔ جدید کرونا ثبت نشده است.

به اساس معلومات وزارت صحت عامه، در ۲۴ ساعت گذشته، ۱۷۸۹ نمونهٔ مشکوک ویروس کرونا در لابراتوارهای کشور مورد آزمایش قرار گرفته که از این میان ۳۷ واقعهٔ آن مثبت تشخیص شده است.

منبع می افزاید، با ثبت این آمار، تعداد مبتلایان به این ویروس در افغانستان تا اکنون به ۳۷۱۰٦ تن افزایش یافته است.

در خبرنامه ای این وزارت آمده است که از جمله ارقام جدید ثبت شده، ۱۴ تن در کابل، شش- شش تن در کندهار و تخار، سه- سه تن در ننگرهار وکندز، دو تن در هلمند ویک – یک تن در ولایات بدخشان، لوگر و میدان وردک به ویروس کرونا مصاب شده اند.

بر اساس خبرنامه، در یک شبانه روز گذشته، ۸۷ فرد مبتلا به ویروس کرونا دوباره صحت یاب شده اند که شمار مجموعی بهبود یافته گان به ۲٦۰۴۷ نفر رسیده است.

به همین گونه این وزارت از ثبت ۹ واقعهٔ فوتی به اثر ابتلا به (کوید-۱۹) در یک شبانه روز گذشته نیز خبر داده، می گوید که شمار مجموعی جان باخته گان از اثر این بیماری تاکنون در افغانستان به ۱۳۲۱ تن رسیده است.

وزارت صحت عامه از مردم خواسته است تا برای جلوگیری از گسترش ویروس کرونا دستورات صحی را جداً رعایت کنند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دريځ

## جرګې؛ بين الافغاني خبرو ته لاره هواره کړه؟

له تمې سره سم د سولې مشورتي لويې جرګې پرېکړه وکړه چې حکومت د طالبانو پاتې څلور سوه بنديان هم خوشې کړي، څو د سولې د بين الافغاني خبرو پيل ته لاره هواره شي. جرګې ځينې نورې غوښتنې هم کړې دي، خو يوه بله د پام وړ خبره يې دا ده چې د تېرو اتلسو کلونو په لاسته راوړنو او پر جمهوريت يې ټينګار کړی دی.

له پيله همدا اټکل کېده چې جرګه به د بنديانو د خوشې کولو تاييد کوي او بيا چې کله امريکايانو د جرګې ملاتړ وکړ، نو ښخي روښانه شوه چې جرګه به همدا پرېکړه کوي او حکومت هم همدا غوښتل. که څه هم په پرېکړه کې ځينې داسې مسايل شته چې وروسته لانجه جوړولی شي، خو د جرګې دا پرېکړه چې پاتې طالب بنديان دې خوشې شي، د ټولو اړخونو او ولس له هرکلي سره مخ شوې ده، ځکه چې تمه کېږي چې په دې سره به بين الافغاني خبرې پيل شي. طالبانو هم ويلي چې که يې بنديان ور خوشې شي، نو په يوه اونۍ کې به بين الافغاني خبرې پيل کړي. اوس که حکومت په نن او سبا کې دا بنديان خوشې کړي، نو بيا په راتلونکې اونۍ کې د خبرو پيل ته لاره هوارېدلی شي.

د جرګې سياسي اړخونه پر خپل ځای، خو يو څه پکې روښانه شول او هغه دا چې افغانان په يوه غږ سوله غواړي. د دې لپاره هر ډول قربانۍ ته تيار دي، ټولې کينې او نفرتونه هېروي او آن خلک د خپلو اولادونو وژونکي هم د سولې لپاره بښي. دا د افغانانو يو ښه خاصيت دی چې له نېکه مرغه په دې جرګه کې يو ځل بيا را څرګند شو. جرګې که څه هم د ټولو افغانانو استازيتوب نه کاوه، خو يو ځل بيا يې د سولې مخالفينو او جګړه غوښتونکو ته منفي ځواب ورکړ. له همدې امله دا کار د ستاينې او قدر وړ دی.

د جرګې له دې پرېکړې وروسته اوس پکار ده چې په چټکۍ سره دا بنديان خوشې شي. طالبان دې هم په اعلان شوي يا نا اعلان شوي ډول جګړه ودروي او تاوتريخوالی دې تر ممکن حده کم کړي. څومره ژر چې شونې وي بايد بين الافغاني خبرې پيل شي. د خبرو په لومړنۍ غونډه کې بايد پر اوربند توافق وشي او د دې لپاره چې طالبان ورته غاړه کېږدي، حکومتي اړخ دې د نورو طالبانو د خلاصون ژمنه هم وکړي. په دې سره به هم جګړه درول شوې او هم د خبرو لپاره لا زيات حسن نيت ښودل شوی وي او يوه ښه فضا به برابره شوې وي.

ځينې کړۍ شته چې بيا هم هڅه کوي، ستونزې پيدا کړي. دوی به هڅه وکړي چې د خبرو پيل وځنډوي او بيا که پيل هم شي، هڅه به وکړي چې د بريا مخه يې ونيسي. له همدې امله ټول سوله غوښتونکي اړخونه او افغان ولس بايد په جديت سره د دغو هڅو مخه ونيسي. اوس هغه وخت دی چې جګړه غوښتونکي او د سولې ضد کسان، که په هر لوري کې وي، منزوي او ورټل شي. اوس د سولې د خبرو د پيل او بريا وخت دی او د سولې غوښتونکي او افغان ولس بايد پرې نږدي چې دا چانس ضايع شي.

# د افغانانو خپلمنځي مذاکرات؛ ياني څه؟ مذاکرات څنګه کېږي او مذاکره څه ته وايي؟



ليکنه او راټولونه: زمريالی اباسين

که څه هم دا يو پېچلی بحث دی، خو دلته يې تر وسه هر څومره چې ممکنه وي د منځپانګې په پام کې نيولو سره يادونه کوم:

مذاکره هغه ميتود ته ويل کېږي چې دوه يا څو لوري/جهتونه يې په ترڅ کې د توپيرونو او تضادونو د له منځه وړلو هڅه کوي.

دا هغه پروسه ده چې مقابل لوري له کومې شخړې او نانندريو پرته سره د مېز تر شا کېني اود ښکېلو لوريو تر منځ د سازش يا توافق رامنځته کولو هڅه کوي.

ځينې رسنۍ او ملګري بين الافغاني مذاکرات په تېروتنې سره بين الافغاني خبرې يا د افغانانو خپلمنځی خبرې ليکي او وايي چې دا تېروتنه ده. هغه څه چې تمه ده ژر د طالب بنديانو له خلاصېدو وروسته پيل شي «بين الافغاني مذاکرات/د افغانانو خپلمنځي مذاکرات» دي.

مذاکره که څه هم د دلايلو، عرايضو، غوښتنو او ابهاماتو د وړاندې کولو سره د يو سازش، تفاهم او هوکړې په موخه پيلېږي، خو پايله يې تل مطلوبه هم نه وي چې خپل لاملونه لري.

مذاکره څو ډولونه لري چې موخه يې د توپيرونو له منځه وړلو په موخه استدلال او د تضادونو په مقابل کې د قناعتونو رامنځته کول دي او د تهوماس کېلمن د فورمول له مخې د شخړو، تضادونو او مخالفتونو له منځه وړلو او د تفاهم، توافق او مصالحې د ايجاد په موخه په پنځو سبکونو وېشل شوي:

۱- رقابتی مذاکرات (د يو بل پر وړاندې له خپلو اهدافو/غوښتنو دفاع)

۲- اجتنابي مذاکرات (د تضادونو او مخالفتونو کمول)

۳- سازګاري مذاکرات (د مقابل لوري له غوښتنو سره ځان عيارول)

۴- مصلحتي مذاکرات (له وضعيت او شرايطو سره په برابرۍ غوښتنې/اهداف)

۵- د همکارۍ رامنځته کولو مذاکرات (په ګډه د کار/واک/چارو تنظيمول)

لومړی خو دا مهمه ده چې پوه شو د افغانانو تر منځ احتمالي مذاکرات کوم ډول مذاکرات دي؟

دا هغه پوښتنه ده چې ممکن د راتلونکو ممکنو بين الافغاني مذاکراتو ابهام تر ډېره راکم کړي.

زه هڅه کوم چې پنځه واړه يې د احتمال په چوکاټ کې له تاسو سره شريک کړم:

لومړی- د افغانانو تر منځ رقابتي مذاکرات:

که دا ډول وي چې احتمالاً وي هم، نو مقابل اړخونه بايد څوک وي؟

ظاهراً، د افغانستان د جګړې له داخلي/کورني لحاظه ښکېل اړخونه په څو ډلو وېشل شوي او هر يو يې جلاجلا اهداف او غوښتنې لري. د بېلګې په توګه، د شمال ائتلاف په لومړي سر کې عمده مشترک اهداف لري، خو په خپلو منځو کې د جګړې او سولې په اړه مختلف مسيرونه څاري. دغه راز سويل زون کې قومندانان او بيا ختيځه څنډه کې ډلې او ټپلې هم سره متضاد اړخونه او غوښتنې لري. همداسې اوسنی حکومت د دوو عمده سياسي سيالانو مشترک جوړښت دی چې په ډېرو مسايلو کې سره همغږي او هم رديفه نه دي. د پخواني حکومت واکداران هم يو بل مسير پالي.

دا يې شو د نظام دننه د تضادونو يو مختصر انځور. څرګنده ده چې دوی د شته تضادونو له امله په يو نظام کې د يو نظام په استازيتوب نشي راټولېدلی. د نظام دننه دغه متشنج او له لسيزو راهيسې خپلو کې پر نانندريو او مخالفتونو کې واقع لوري به د يو مشخص لوري په مقابل کې مشخص دريځ او ليدلوري غوره نه کړی شي. تر ټولو ستر لامل يې په بهرنيو کړيو پورې د هرې ډلې او هر لوري ضميمه کېدل دي.

دې ته په کتو چې طالب لوری له افغان حکومت سره د حکومت په توګه مذاکرې ته اصلاً حاضر نه دی او مقابل اړخونه يې هم د نظام دننه دغه ډول دي؛ نو پايله دا کيږي چې راتلونکي احتمالي بين الافغاني مذاکرات له رقابتي مذاکراتي چوکاټه بهر دي. د دې مذاکراتو خاصيت د مقابل لوري قاطعيت، پر نفس اعتماد او پر معاملې او پايلو يې تمرکز ته اړتيا لري چې په دې ډول څرګنده ده دا خاصيت همدلته پای مومي او له دې سبک دا مذاکرات بهر ښکاري.

دويم- اجتنابي مذاکرات:

دا ډول مذاکره معمولاً کمې ادعاوې او جنجالونه له ځانه سره لري. په دې مانا چې په دې ډول مذاکراتي سبک کې مقابل لوري هڅه کوي چې تعامل ډېر او تقابل کم کړي او خبرې جنجال او شخړې ته ونه وځي. روښانه ده چې د افغانستان د نولسو کلونو ناورينونو ډېرې عقدې او تربګنۍ راټوکولې او د هرې يوې هوارې او له منځه وړل يې کلونه زيار او پرېمانه زغم ته اړتيا لري.

څنګه به ممکنه وي چې طالب دې د فوق العاده شبه نظامي او مليشه ځواک په توګه سياسي دريځ ته لومړيتوب ورکړي او پرېکړې دې د ډيپلوماسۍ په اډانه کې وکړي؟

که فرض کړو طالب دا کار وکړ، نو دولت به له طالب سره حداقل د اوسني حکومت د دوو شريکانو تر حده تعامل او معاملې وکړي؟ که څه هم بايد بيا يادونه وشي چې طالب دولت مزدور بولي او دولت طالب او لاهم د يو بل پر وړاندې غوره انتخاب نظامي پايښت بولي.

طالب فکر کوي چې کابو دوه لسيزې يې د امريکا او ناټو د جنګ ماشين ستړی او خبرو ته مجبور کړ؛ له هغه دولت سره به څنګه له خپلو سرسختو داعيو او غوښتنو اجتناب وکړي چې فکر کوي نه بدلېدونکي دي. دوی چې جمهوريت نه مني او هغه د نه منلو وړ انګېري، څنګه به له خپلو غوښتنو تېر شي. همدا راز د نظام دننه کړۍ چې نه پر جمهوريت معاملې ته تيار دي او نه هم په هېڅ بيه لړترلړه له واکه تېرېږي؟

درېيم- سازګاري مذاکرات:

هغه چې يو لوری ځان د بل له غوښتنو سره ځان عياروي لکه له حکومت سره د ګلبدين حکمتيار مذاکرات چې وو. هغه جمهوريت ومانه، له خپلو پخوانيو سرټنبګيو تېر او د دولت له غوښتنو سره يې د کمو سياسي فرمايشونو په مقابل کې سازش وکړ او ان ولسمشرۍ ته ودرېد. د مذاکرې په دې سبک کې تعامل کوونکی لوری هڅه کوي چې د نرمې ډيپلوماسۍ په اډانه کې ورو ورو د موجوده سيستم په چوکاټ کې ځان برابر او موخو ته ورسيږي.

طالب دا کار کوي؟ څوک وايي چې هو؟! دولت به دا کار وکړي؟ روښانه ده چې د څو کلونو داخلي جګړې او د واک پر سر شخړې تکرار به ورته بديل ونلري او نه به هم له غټو امتيازونو پرته دا ډول مذاکره بريالي کېدو ته پرېږدي.

څلورم- مصلحتي مذاکرات:

دا هغه مذاکره ده چې وضعيت او د شرايطو څرنګوالی يې پر پايلو او څرنګوالي مستقيم اغېز ښندي. دلته مقابل اړخونه هڅه کوي چې وضعيت درک کړي او له شرايطو سره په برابرۍ جوجاړي ته ورسيږي. د افغانستان شرايط دا دي چې که روغه جوړه نه کېږي او امريکا او ملګري هم په يو ډول د دې هېواد د راتلونکي ټول مسووليتونه د ښکېلو افغان جهتونو پر غاړه اچوي او داسې ښيي چې «وګورئ، افغانان خپلو کې جوړ رانغلل! موږ کلونه زيار وکېښ او خپله غاړه مو خلاصه کړه، فرصت مو برابر کړ، مصرف مو وکړ، خو دوی سره جوړ رانغلل. د راتلونکي مسووليت د افغانانو په پر غاړه دی!» نو بيا خو له کورنۍ جګړې پرته بل انتخاب نه تر سترګو کېږي؟

پنځم- د همکارۍ رامنځته کولو مذاکرات:

په دې ډول مذاکراتو کې دواړه لوري هڅه کوي چې لومړی اړيکې پياوړې شي او مذاکراتي ناستې د تفاهم فضا رامنځته کړي. مطلب دواړه لومړی بايد د يو بل منلو ته تيار شي، بيا سره پر شته اختلافاتو پوه شي او په نهايت کې د «يو څه ورکړه او يو څه راکړه» فورمول په چوکاټ کې توپيرونه له منځه يوسي او پر يو نوي جوړښت هوکړې ته ورسيږي.

په دې ډول مذاکراتي سبک کې دواړه لوري طرحې، وړانديزونه، د مخالفت ټکي، حللارې او اندېښنې وړاندې کوي او پر هر يو يې د متقابل درک او واقعيتونو په پام کې نيولو سره د روغې جوړې لپاره له زغم او دُرايت سره مل اوږدې خبرې کوي او په دوامدار ډول دغه مذاکرات تسلسل پيدا کوي، څو هر اړخيزې او د منلو وړ پايلو ته ورسيږي.

دا ممکنه ده، ځکه چې اوس له بهرنيانو پرته طالب، دولت او ټول نور افغان اړخونه ښه سره په دې پوهيږي چې په سيمه کې د موجودو سترو سيالانو په شتون کې يو هم بريالی نه دی څو ټول بريالي نشي.

دا هغه احتمالي ممکن مذاکراتي چوکاټ دی چې د راتلونکي ممکنو بين الافغاني مذاکراتو برخليک مثبت لور ته رهبري کولی او د يو نوي او د سولې پر لور په پياوړې توګه د روان افغانستان جوړښت تضمينولی شي.

د همکارۍ لپاره ټول افغان جهتونه پوټېنشل او ظرفيت لري او د هر يو يې بل نه ځای نيولی شي او نه يې حذفولی شي.

لاره اوږده او پېچلې ده، خو د تونل په پای کې د رڼا څرک څرګند شوی چې افغانان يې بايد د يو فوق العاده طلايي چانس په توګه وانګېري او ومني او د کرغېړنې جګړې، ذلت او خواريو او نه پايته رسېدونکې جګړې پر ځای سوله خپل رښتينی او عقلاني مرام وګرځوي. بل انتخاب د هېڅ افغان په ګټه نه و او نه به وي!

## اېسپر: په افغانستان کې به تر راتلونکې نومبر مياشتې پورې د پوځيانو شمېر پنځو زرو ته راکم کړو

د امريکا دفاع وزير مارک اېسپر ويلي، هېواد به يې د راتلونکې نومبر مياشتې تر پايه په افغانستان کې د خپلو پوځيانو شمېر تر ۵۰۰۰ راټيټ کړي.

نوموړي له فاکس نيوز ټلوېزيون سره په يوه مرکه کې ويلي: «غواړو د نومبر مياشتې تر پايه د خپلو پوځيانو شمېر تر ۵۰۰۰ راټيټ کړو.»

هغه زياته کړې، د امريکا دفاع وزارت هوډ لري چې د کانګرېس غړي پر دغه پلان خبر کړي او ځان ډاډمن کړي چې د امريکا متحده ايالتونه به له افغانستانه په راتلونکي کې د ترهګرو د ګواښونو هدف نه ګرځي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم ويلي وو، چې د نومبر تر درېيمې به د امريکا تر ټاکنو پورې په افغانستان کې د خپلو پوځيانو شمېر ۵۰۰۰ يا ۴۰۰۰ ته راټيټ کړي.

دوې مياشتې مخکې امريکايي رسنيو ويلي وو چې د ټرمپ اداره هغه پلان نهايي کوي چې له مخې به يې د خپلو ۸۶۰۰ پوځيانو شمېر کابو ۴۵۰۰ ته راټيټ کړي.

که امريکا له افغانستانه خپل نور پوځيان وباسي، دا به له ۲۰۰۱ ز کال راهيسې چې



د افغانستان په جګړه کې امريکا ښکېله شوې، په افغانستان کې د امريکا تر ټولو لږ عسکر وي.

په لومړي پړاو کې امريکا په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر له ۱۲۵۰۰ څخه ۸۶۰۰ سرتېرو ته راټيټ کړ.

مارک اېسپر داسې مهال دا څرګندونې کړې چې په افغانستان کې د افغان حکومت پر وړاندې د وسله والو طالبانو بريدونه ډېر شوي دي.

خو په افغانستان کې د ناټو يو پخوانی سلاکار او پوځي څېړونکی امين‌الله حبيبي وايي چې افغانانو لپاره د امريکايي ځواکونو د شمېر پر ځای د امريکا ژمنه مهمه ده.

نوموړی وايي، اوس پرېکړه دا ده چې امريکايي ځواکونه به وځي، خو په خبره‌يې، د امريکا ولسمشرۍ ټاکنو نه وروسته چې د نومبر مياشتې ته پلان شوي، ممکن د امريکا په اوسنۍ تګلاره کې بدلون راشي.

امريکا په تېره فبرورۍ مياشت کې په قطر کې له طالبانو سره يو تړون لاسليک کړ چې له مخې به يې له افغانستانه امريکايي ځواکونه وځي او افغان حکومت د طالبانو ۵۰۰۰ بنديان خوشې کوي.

# د افغانستان په ستراتېژيکو مسايلو کې امريکا چېرته قرار لري؟

لیکنه: روح الله احمدزی

**وروستۍ برخه:**

دغه راز په افغانستان کې یو لویه ستونزه چې د امنیت د ټینګښت او سولې ته د رسېدو په لاره کې پرته ده، هغه دا ده چې واکمنان او سیاستوال د سولې په اړه له ټولنې څخه د جلا کېدو لیدلوری لري. په روښانه مانا دا چې حکومت د سولې مسئلې د پای لپاره د یوې وسیلې په توګه ګوري. سوله باید د هېواد ټولو خلکو لپاره ښه بستر او پلېټ فارم وي چې وکولی شي ښه او په درنښت ژوند وکړي. تیاره، دښمني، تبعیض او بې عدالتۍ، د عظمت او شخصي امتیاز په لټه کې اوسېدل باید له منځه ولاړ شي. قانون او عدالت باید په ټولو برخو کې پلی شي، په ځانګړې توګه د مساوي قانوني حقونو، ملي امکاناتو او تاسیساتو په ساحه کې.

د امنیت ټینګښت او سولې لاسته راوړل باید د ترهګرو او مخالفینو لپاره د تیارسۍ زنګ اوسي چې ځان د بهرنیو قدرتونو، عناصرو او استخباراتي ادارو له منګولو څخه ازاد کړي او د سولې مخالفین د خپلو خلکو او ټولنې پر وړاندې د درېدو پر ځای خپله لاره بېله کړي او د خپلو خلکو تر څنګ ودرېږي. د سړکونو او عامه ځایونو ویجاړولو پر ځای، دوی باید د ناورین وهلي او ویجاړ شوي وطن په بیارغونه کې برخه واخلي. د اقتصاد او ګډ ژوند څرخونه یوځای تاو کړي او د تېرو اچوونکو لپاره هېڅ ځای پرې نږدي.

بلخوا د سولې تر لاسه کولو لپاره بله ننګونه، د سولې اوسنی میکانېزم دی. د دې ننګونې ریښه د سولې په اړه په انګېزې، علمي او محرکو ټکو کې ده چې په پورتنې کالم کې ورته اشاره شوې. حکومت تل هڅه کړې چې د سولې مسئله په مبهمو لارو راپورته کړي. د بېلګې په توګه، تل وايي، د سولې دښمنان ښه پېژندل شوي دي. حکومت باید خلکو ته په ښکاره خبر ورکړي چې د سولې دښمنان څوک دي؟ ولې ځینې خلک د دوی د پروپاګند په جال کې نیول شوي دي؟ د سولې لپاره د حکومت وړاندیز څه دی؟

پر دې سربېره، حکومت حتی تر اوسه د طالب کوم تعریف نه دی وړاندې کړی! کله د پاکستان حکومت مستقیم د سولې لاسته راوړلو په وړاندې یو خنډ په توګه ګوري او د طالبانو پلوی یې بولي، بله ورځ هغه د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې ښه شریک بولي. همدارنګه کوم د سولې راوستلو پلانونه او برنامې چې ترتیب او وړاندې شوي دي، دا پلانونه او طرحې تل له هغو فکري خونو څخه راوتي چې دا خونه په خالص تیاره او شخصي خود خواهۍ او سیاسي فساد کې ډوبې دي. یا په بل عبارت، د امنیت او سولې تر لاسه کولو لپاره پلانونه د شفاف او قانوني چینلونو له لارې نه دي وړاندې شوي. دا په داسې حال کې چې له نېکه مرغه نن ورځ موږ اداره لرو، پارلمان لرو، سنا لرو، مدني بنسټونه او سیاسي ګوندونه لرو، نړیواله ټولنه په هېواد کې لوی رول لري او ... مګر حکومت د دې پر ځای چې د یادو قانوني او روښانه چینلونو کارولو لپاره د سولې لاسته راوړلو لپاره پلان او طرحه وړاندې کړي، له بده مرغه د مغرضو سیاسي او اقتصادي مافیاوو، د جهادي او سیاسي مشرانو په نوم له ځینو خلکو سره چې زموږ په ټولنه کې رغنده، ګټور او اغېزمن ځای نه لري، مشورې کوي.

په همدې ترتیب بل اړخ چې د بیانولو وړ دی، دا دی چې حکومت د سولې پروسې په کامیابولو کې له خپل سیمه ییز او نړیوال لید څخه بې برخې دی. د سولې تر لاسه کولو لپاره سیمه ییزې او نړیوالې وسیلې او شرایط له پامه غورځول شوي دي. نن ورځ سوله یوازې داخلي پدیده او هیله نه ده، بلکې دا د سرحدونو هاخوا پراخه ساحه لري او حتی نړیواله کېدی شي. بې له شکه، په افغانستان کې د سولې راوستل له سیمه ییزې او نړیوالې همکارۍ پرته امکان نه لري. مګر موږ ډېری وختونه لیدلي چې حکومت پورته مسئله په پام کې نه ده نیولې یا یې پرې ځان چوپ کړی. په ډېری قضیو کې د سمدستي شخصي او ټیمي ګټو لپاره د وطن علیا ګټې قرباني شوې او افغانستان د نړۍ او سیمې هېوادونو ته ټیټ او نه جوړېدونکی وړاندې شوی او په هغو شرایطو کې چې عزم او اصرار ته اړتیا وي، د ضعف او بزدلي له دریځ څخه راوتلی دی.

په نهایت کې په سیمه او نړۍ کې د داسې خام او ناپایدار سیاست او پالیسۍ د دې سبب شوې چې د حکومت موقعیت او موضع د امنیت ټینګښت او سولې غوښتنې داعیې په اړه هم د خلکو پر وړاندې د بې باورۍ لامل شي او هم مخالفین ورته ارزښت نه ورکوي او دغه راز نړۍ هم شک لري او په ځیرتیا سره ورته ګوري.

همدا دلیل دی چې حکومت اوس په ساحه کې یوازې پاتې دی او باید د سولې لاسته راوړلو پورې له ټولو ستونزو او ننګونو سره مبارزه وکړي. دا هغه څه دي چې حکومت له بده مرغه په بشپړ ډول د دې له ځواک او ظرفیت څخه لرې دی او له بده مرغه د ذکر شویو دلایلو له مخې، داسې انګېرل کېږي چې لا هم سولې ته د رسېدو اوږده او سترې لار پاتې ده.

**پای**

# د لويې جرګې وروستۍ پرېکړه؛

## ولسمشر غني: د طالبانو پاتې بندیان به خوشي کړم او بین الافغاني خبرې به پیل شي




له میاشتو ځنډ وروسته افغان حکومت ځان بین الافغاني خبرو ته یو ګام نور هم نږدې بولي. پرون د سولې په تړاو رابلل شوې مشورتي لویې جرګې پرېکړه وکړه چې افغان حکومت باید د طالبانو پاتې زندانیان ازاد کړي او ژر تر ژره دې بین الافغاني خبرې پیل شي. د جرګې غړو همدا راز د اوربند، د جګړو د کمېدو، رښتیني سیاسي جوړجاړې او لاس ته راوړنو پر ساتلو هم ټینګار وکړ. ولسمشر غني هم ژمنه وکړه چې زندانیان به خوشي کوي او پخواني ولسمشر بیا سوله د هر افغان هیله وبلله.

د سولې په اړه مشورتي لویې جرګې په کابل کې درې ورځې دوام وکړ. په پای کې پنځوسو کمېټو ۲۵ ماده ییز پرېکړه لیک صادر کړ. په پرېکړه‌لیک کې راغلي چې د بین الافغاني خبرو د پیل، د سولې د راتګ، جګړو د ختمېدو او روان ناورین د پای لپاره باید د طالبانو پاتې زندانیان ازاد شي. د جرګې غړو همدا راز په دغه پرېکړه‌لیک کې ویلي چې د تېرو کلونو لاس ته راوړنې دې وساتل شي، طالبان دې په رښتیني توګه له جګړو لاس واخلي او له افغان حکومت سره دې خبرې پیل کړي، نړیواله ټولنه دې د هوکړې ضمانت وکړي او همدا راز افغان حکومت دې هم له خپل لوري د سولې لپاره نرمښت وښیي.

د پرېکړه‌لیک تر لوستلو وروسته ولسمشر غني په خپلو خبرو کې وویل چې د دغو زندانیانو خوشي کول د ده له صلاحیت لوړ وو، نو دا چې د جرګې غړو پرېکړه کړې ده، دی به هم ژر تر ژره د څلور سوو پاتې طالب بندیانو د خوشي کولو فرمان هم لاسلیک کړي. په دې کې هغه بندیان دي چې تر ډېره د جنایي جرمونو او حق العبد له امله په زندانونو کې پاتې دي، خو طالبان یې د خوشي کولو غوښتنه کوي. ولسمشر په خپلو خبرو کې وویل: ((زه به نن هغه حکم امضا کړم چې ما په ژوند کې نه‌شو لاسلیکولی، ځکه زما تر صلاحیت لوړ و، اوس به یې ستاسو په اجماع امضا او دوی به خوشي کړم)). ولسمشر همدا راز په خپلو څرګندونو کې وویل چې اوس د طالبانو وار دی او باید تاوتریخوالی کم کړي او سرتاسري اوربند ته غاړه کېږدي. د ولسمشر په خبره جرئت په سوله او جرئت په اوربند کې دی، نو طالبان دې د جګړو پر ځای له افغان حکومت سره په ټول هېواد کې اوربند وکړي، څو په دې حساسو شرایطو کې حکومت د خپلو خلکو لاسنیوی وکړي او په ګډه د هېواد د ښېرازۍ لپاره کار وشي.

د دې تر څنګ پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د جرګې له غړو مننه وکړه چې د سولې لار یې خلاصه کړه او افغانان یې یو ګام نور هم بین الافغاني خبرو ته نږدې کړل. هغه پر طالبانو غږ وکړ چې نور دې جګړه ودروي او د خبرو له لارې دې د دایمي ثبات او سولې لپاره زمینه برابره کړي. حامد کرزي زیاته کړه چې دلته روانه جګړه پردۍ جګړه ده او باید ژر تر ژره پای ته ورسول شي.

د ملي مصالحې عالي شورا مشر او د سولې مشورتي جرګې رییس ډاکټر عبدالله عبدالله هم وویل چې افغانان یو ګام نور هم بین الافغاني خبرو ته نږدې شول او د سولې په لار کې یو بل خنډ هم له منځه یوړل شو. هغه هیله څرګنده کړه چې په راتلونکو درېو ورځو کې به بین الافغاني خبرې پیلېږي.

بلخوا طالب وسله والو بیا د حکومت له لوري د زندانیانو پر خوشي کېدو غبرګون ښودلی او د دې پرېکړې هرکلی یې کړی دی. د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي همدا چې د دوی پاتې څلور سوه بندیان خوشي شي، نو په یوه اونۍ کې به د بین الافغاني خبرو لپاره چمتو وي. تر دې وړاندې افغان حکومت بیا ویلي وو چې د زندانیانو تر خوشي کېدو درې ورځې وروسته به له طالبانو سره مخامخ خبرې پیلېږي.

# په لبنان کې تر خونړۍ چاودنې وروسته؛

## لاریونوال: د اوسني حکومت ټوله کابینه دې استعفا وکړي




د لبنان د اطلاعاتو وزیرې منال عبدالصمد د بیروت په زوروري چاودنې کې د ناکامۍ له وجې د ولس نه بښنه غوښتې او له دندې یې استعفا کړې ده.

نوموړې په یوې اعلامیې کې چې په مطبوعاتو کې ویلي: «د بیروت له سترې غمیزې وروسته ما د حکومت د پرېښودو اعلان وکړ».

نوموړې داسې مهال خپله دنده پرېښې چې د دغه هېواد په بېلابېلو برخو کې د حکومت پر ضد اعتراضونه د زیاتېدو په حال کې دي. لاریونوال د یادې پېښې له کبله حکومت پر ناغېړي تورنوي او د ټول حکومت د استعفا غوښتنه کوي.

دوی پر یوشمېر حکومتي ودانیو او وزارتونو بریدونه هم کړي دي او د بیروت چاودنه یې د بشریت ضد جرم بللې او د لومړي وزیر حسن دیاب د حکومت د ټولې کابینې استعفا غواړي.

دوی دغه راز د حکومت پر مشرانو د اداري فساد، رشوت خورۍ او بې کفایتۍ تور لګوي.

په ورته وخت کې حسن دیاب بیا ویلي چې د تازه انتخاباتو لپاره به قانوني مسوده ترتیب کړي او په تشکیلاتو کې به ژور اصلاحات راولي.

دغه راز د اطلاعاتو د وزیرې تر څنګ د پارلمان شپږو غړیو هم استعفاوې ورکړې دي. سره له دې چې د لبنان جمهور رییس مېشل عون د بیروت د چاودنې په هکله په نړیواله کچه له څېړنو سره مخالفت ښودلی، خو د مارونایټ د کلیسا مشر، بیشارا رای ټینګار کړی چې د چاودنې په هکله دې نړیوال څېړنې وکړي.

د راپورونو له مخې په دې چاودنه کې تر اوسه د ۱۵۸ کسانو د وژل کېدو او د ٦ زرو نه د زیاتو کسانو د ټپي کېدو خبر ورکړل شوی دی.

حکومت همدارنګه ویلي چې لاهم لسګونه کسان ترې تم دي او د مرګ او ژوند هېڅ درک یې نه مالومېږي.

په همدې حال کې د فرانسې ولسمشر ایمانوېل مکرون د لبنان لپاره د مرستې د راټولولو د یوه نړیوال کنفرانس کوربه و چې ملګرو ملتونو هم ترې ملاتړ څرګند کړی دی. د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم ویلي چې د لبنان او فرانسې له ولسمشرانو سره یې خبرې کړې دي او له دغه هېواد سره هر ډول همکاریو ته چمتو دی.


د یادونې ده چې تېره اونۍ د لبنان په پلازمېنه بیروت کې د خونړۍ چاودنې له کبله درانه مالي او ځاني زیانونه واوښتل.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### درېیمه برخه
### ستاسو راتلونکی اوس پیلېږي!
### نولسم څپرکی




که یو ځل مو شبکه تر ۵۰۰ کسانو زیاته شوه او زرو کسانو ته نژدې شوه، نو تجارت مو هغه ځای ته ورسېد چې ګټه ترې ترلاسه کړئ. دا اوس تجارت نه دی، بلکې د پیسو ګټولو یوه سرچینه شوه. مانا دا چې د شبکې له پرانیستنې څخه تر هغه وخته ستاسو شبکه د جوړښت په حال کې ده چې د کارکوونکو شمېر یې تر ۵۰۰ اوړي. دا ستاسو د شبکې د بنسټ اېښودولو وخت دی. دې ته مو باید پام وي او پر خپله اصلي موخه ـ چې د شتمنۍ جوړول دي ـ باید پوره تمرکز وکړئ.

**وخت ته اړتیا ده**

که تاسو د شبکه یي بازارموندنې د تجارت د پیلولو په فکر کې یئ او هیله مو دا وي چې زر تر زره باید ګټه ترې واخلئ، نو اصلاً تاسو اوس هم د تجارت نه، بلکې د تنخوا لرونکو په څېر فکر کوئ. تنخوا لرونکي خلک د زر ګټې په فکر کې وي او سوداګر خلک کله هم زر ګټه نه غواړي، بلکې دایمي ګټه غواړي.

جان: په شبکه یي بازارموندنه کې د زر شتمنېدو په نوم څه نشته. که څه هم د دې تجارت چارې اسانه دي؛ خو وخت او هڅو ته ډېره اړتیا لري.

د Direct Sales Association په وینا، په شبکه یي بازارموندنه کې په لسو کې یوازې یو کس له تاسو سره هوکړه کوي. ښایي له لسو کسانو سره په لیدنه کې هېڅوک هم هوکړه درسره ونه کړي؛ خو که له سلو کسانو سره ووینئ، ښایي دغه شمېره پوره کړي. اصلاً د ډېرو کسانو ملاتړ موندل د شبکې د مسئول په تجربه پورې هم اړه لري.

په تېرو کلو کې خلکو دا تجارت د پیسو ګټلو د چټکې لارې په توګه پېژندلی و؛ خو دا بې ځایه خبره ده. کومو خلکو چې په شبکه یي بازارموندنه کې د مشرۍ مهارتونه قوي کړي، خپل تجارتونه یې جوړ کړي او رښتینې شتمني یې ترلاسه کړې ده، هغوی خورا سخت او ډېر کاله کار کړی دی.

نو د هغو خلکو په خبره باور مه کوئ چې وای زر به شتمن شئ. دا چټک، شپږ میاشتنی یا د چانس ترلاسه کولو تجارت نه دی. دا جدي تجارت دی. د کوم تجارت په اړه چې موږ خبرې کوو، دا اصلاً ستاسو ژوند دی.

د حقیقي نړۍ په تجارت کې که تاسو په درېیو یا شپږو میاشتو کې ګټه رامنځته نه کړئ، نو له دندې مو لرې کوي. زیرکس شرکت له ما سره ډېر ښه وکړه. یو کال یې د زده کړې او یو کال یې ازمایښتي دوره راکړه. که دغه دوه کاله نه وای، زه به یې وختي له شرکته ایستلای شم.

تاسو په بېل حالت کې یاست. ستاسو د بازارموندنې شبکه تاسو له دندې نه لرې کوي، ترڅو تاسو هغه له ځانه لرې نه کړئ. شبکې ته مو یو څو میاشتې یا کال وخت مه ځانګړی کوئ چې دستي ووایئ:«امممم ښه، دا خو بریالۍ نشوه.» هغې ته دومره وخت ورکړئ چې ضرورت ورته لري.

رابرټ: جانه! کله چې زه خلکو ته ووایم:«شبکې ته مو وخت ورکړئ.» هغوی تل دا پوښتنه کوي:«څومره وخت؟ تاسو دې پوښتنې ته څه ځواب وایئ؟»

جان: زه ورته وایم، پنځه کاله وخت ورکړئ.

رابرټ: زه هم بلکل همداسې ځواب ورکوم. په حقیقت کې د هر تجارت د جوړولو لپاره همدغه یو ځواب دی. زه دې ته «پنځه کلن پلان» وایم.

**پنځه کلن پلان**

که تاسو د پنځه کلن سفر پر پیلولو ټینګار کوئ، نو لږ تر لږه د راتلونکو پنځو کلو لپاره د زده کړې، پرمختګ، په اصلي ارزښتونو کې بدلون او له نوو ملګرو سره د لیدنې سپارښتنه درته کوم. ولې؟ ځکه دې موخې ته د رسېدو لپاره دا خورا غوره کار دی.

له هاوورډ شولټز څخه سټارباکس، له ری کراک څخه ماکډونالډ او له مایکل ډېل څخه ډېل کمپیوټرز جوړولو کلونه کلونه وخت ونیو. لوی شرکتونه او تجارتي مشران جوړېدل وخت ته اړتیا لري. د خپل تجارت څښتن کېدو له ما څخه هم کلونه کلونه وخت ونیو. تاسو هم د شبکه یي بازارموندنې د تجارت جوړولو لپاره زیات وخت ته اړتیا لرئ. زموږ او ستاسو ترمنځ څه توپیر شته؟ هیڅ.

ځینې خلک کلنۍ ګټې ته فکر نه کوي. په میاشتنۍ تنخوا عادت شوي وي، نو په شبکه یي بازارموندنه کې هم د زر ګټې په تمه وي. ایا دا به حیرانوونکې نه وي چې په B کونج یانې تجارت کې په پښه اېښودو سره دې سمدستي د زر ګټې په فکر کې وي؟ دوی وایي:«زه له دې تجارت سره یوه اونۍ مخکط یوځای شوم، څه وخت به ډېرې پیسې وګټم؟»

زر شتمنېدل دوې مخالفې خبرې دي. «زر» او «شتمنېدل» دواړه نشي کېدای. د شتمنۍ پنځول وخت ته اړتیا لري. همدا لامل دی چې ډېر لږ خلک په B کونج یا تجارت کې دي. ډېر خلک پیسې غواړي؛ خو وخت ورکولو ته چمتو نه دي.

**لس زره ساعته: حساب وکړه، که په اونۍ کې پنځه ورځې او هره ورځ اته ساعته کار وکړې، نو د لس زره ساعته کار لپاره پنځه کاله زحمت ګالې.**

**دوام لري...**

# کاپیسا

حشمت الله نوري

کاپیسا د افغانستان یو له مرکزي ولایتونو څخه دی، شمال ته یې پنجشېر، لوېدیځ ته یې پروان او کابل، سوېل ته یې کابل او لغمان او ختیځ ته یې هم لغمان پراته دي. د دې ولایت مرکز محمودراقي دی، چې د کابل شمال ته په ٦٥ کیلومترۍ کې موقعیت لري. کاپیسا د هېواد لرغونې سیمه ده چې ٦٢٠ کاله مخکې د لرغوني اریانا د کنیشکا د دوبي پلازمېنه وه، چې ننني هندوستان، بنګلادېش او پاکستان د کاپیسا له مرکز څخه اداره کېده او د یادې اداري تر نفوذ لاندې سیمې وې. کاپیسا د بحر له سطحې ۱۵۰۰ متره لوړ او ۱۸۷ کیلومتره مربع مساحت لري. کاپیسا په ٦۹ درجو او ۲۱ دقیقو شرقي طول البلد او ۳۵ درجو شمالي عرض البلد کې موقعیت لري.

**اقلیم:**

د کاپیسا اقلیم په ژمي کې یخ او په اوړي کې ګرم دی، مګر په پسرلي او منې کې معتدله هوا لري. د کابل په نسبت د بحر له سطحې څخه لږ ارتفاع لري، نو ځکه هر ډول کر کیله پکې کېږي.

د کاپیسا انار او انګور نورو هېوادونو ته هم صادرېږي. د کاپیسا د اورښت اندازه ۳۰۰ – ۴۰۰ ملي متره ده او په اوړي کې یې تودخه د ۲۵ او ۴۵ درجو تر منځ وي. کاپیسا د افغانستان د مرکزي ولایتونو په لړۍ کې راځي. په تاریخي کتابونو کې د کاپیسا یادونه همدې ته په ورته نومونو شوې ده. د کاپیسا مرکز محمودراقي دی، ولسوالۍ یې په دې ډول دي: اوله حصه، نجراب، تګاب. کاپیسا دوه علاقه دارۍ لري: یوه کوه بند او بله آله سای. د کاپیسا ولایت ټول مساحت ۱۸۷ کیلو متره دی، چې په ۱۳۵۹ کال کې یې د خلکو شمېره ۲۵٦۲۳۲ تنه ثبت شوې او په ۱۳۷۹ کې ۳۷۴۰۹۸ اټکل شوې ده کاپیسا ډېره ښه هوا لري، واوره په کې اوري، اوړی یې تود او ژمی یې سوړ دی. پخوانیو پاچاهانو به د محمود راقي او نجراب له غونډیو څخه د اوړي په موسم کې د تفریح ځایونو په توګه کار اخیست. له همدغو غونډیو څخه تاریخي اثار هم لاس ته راغلي دي. د کاپیسا زیات وګړي په مالداری، کرنه او بنوالۍ بوخت دي. پخوا وختونو کې د نساجي فابریکې په دغه ولایت کې زیاتو خلکو ته کار موندلی و او هلته په دندو بوخت وو. د کاپیسا د تګاب انار ډېر مشهور دي، هلته د انارو ښایسته او ګڼ باغونو دي، چې سوداګر یې د هېواد بېلابېلو سیمو ته پر لېږلو سربېره بهرنیو هېوادونو ته هم صادروي. د نجراب ستوان (تلخان) او پنېر ډېر مشهور دي او خلك یې ډېر زیات خوښوي. د دغه ولایت د اوبو سرچینې د تګاب، پنجشېر او نجراب سیندونه دي. په تګاب او نجراب درو کې ځینې کاریزونه هم شته چې د ځمکو په خړوبولو کې ترې کار اخیستل کېږي. د کاپیسا ولایت خلك پوهه پالونکي اوعلم دوسته خلك دي. په ډېرو ولسوالیو اوعلاقه داریو کې ښه د حساب وړ شمېر ښوونځي لري، په تېره بیا په دې وروستیو دوو کلونو کې هلته د لېسو، منځنیو او لومړنیو ښوونځیو شمېر ښه د پام وړ دی.

**پوهنه:**

په کاپیسا کې اوسمهال د ۱۱۵ په شاوخوا کې لومړني، منځني لېسې او انستېټیوتونه شته. له دې سربېره، په دغه ولایت کې پوهنتون هم شته چې د البیروني په نوم یادېږي، چې اوسمهال ۸ پوهنځي لري. دغه راز په کلیوالو سیمو کې هم عنعنوي زده کړې کېږي، له اله سای او تګاب څخه پرته په نورو ولسوالیو کې د نجونو ښوونځي او لېسې هم شته چې ښځینه ښوونکي هم لري.

**مشاهیر:**

په کاپیسا کې هم ځینې څېرې د هېواد په کچه نوموتې دي، چې د هغوی له ډلې څخه غازي مېرمسجدي خان دی، چې د انګرېزانو په لومړۍ جګړه کې د کابل د شمال ولایتونو د مجاهدینو مشر و. دغه راز غازي عبدالکریم خان، غازي عثمان خان ساپی هم د دې ولایت له مشاهیرو څخه دي. همدارنګه په کاپیسا کې د غفور غفوري په نوم هم ستر علمي شخص تېر شوی او دغه راز انجنیر حبیب الرحمن شهید هم ځانګړی نوم لري او د تګاب میا ګل جان اغا له مشهورو مذهبي څېرو څخه و.

**د کاپیسا تاریخي ځایونه :**

کاپیسا د اریانا د پلازمېنې په توګه یو تاریخي حیثیت خپل کړی، دغه ولایت په خپله لمن کې ډېر تاریخي ځایونه لري لکه په لومړي کوهستان ولسوالۍ کې دهم زرګر په نوم یوه سیمه، چې ډېر تاریخي اثار لري او خلک یې لېدو ته را روان وي .

بل تاریخي ځای د عبدالله برج په نوم یادېږي، چې د کاپیسا د مرکز د صیادو په سیمه کې موقعیت لري، چې د یونانیانو د وخت ودانۍ او اثار لري. د کاپیسا مرکز هم د ریګروان په نوم یوه سیمه لري، چې د هېواد له لرې ځایونو څخه یې خلک لیدو ته راځي او ځانګړی جوړښت او تاریخي کېسې هم یاده سیمه لري. همدا ډول په تګاب او نجراب کې هم تاریخي ځایونه او پخواني مزدکونه (عبادتخانې) شته. د کاپیسا د مرکز اړوند د صیاد سیمه د چکر لپاره مشهوره ده، چې په اوړي کې سلګونه تنه هره ورځ له دې سیمې څخه لیدنه کوي.

لرغون پوهانو په کاپیسا په خم زرګر تاریخي سیمه کې له ۴۵ کلونو وروسته د دوو زمریانو مجسمې وموندلې.

خم زرګر هغه سیمه ده چې افغان حکومت په کې له ۱۳۴۷ کال راهیسې کیندنې پیل کړې وې چې بیا وروسته دا پروسه بنده شوه.

د کاپیسا د والي مطبوعاتي دفتر لیکي، دا دوه زمریان چې ژبې یې را ایستل شوي، د خم زرګر سیمې تر خاورو لاندې شوي یو کور کې موندل شوي دي، چې مخینه یې زرګونه کاله پخوانۍ او د کنشکا په دورې پورې اړه لري.

دا په داسې حال کې ده چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وایي، په اتو تاریخي ولایتونو کې یې د لرغونپوهانو په مرسته د پنځو



کلونو لپاره کیندنې پیل کړې دي چې په دې پروګرام کې کاپیسا ولایت هم شامل دی.

**کرنه:**

د دې ولایت ډېری سیمې غرنۍ دي، د کرنې لپاره لږ هوارې ځمکې لري، خو په تګاب، نجراب او مرکز کې د انارو، جلغوزو او انګورو پراخو باغونو د دې ولایت د خلکو په اقتصاد ښه اغېزه کړې ده. دغه راز په ځینو سیمو کې غنم، لوبیا او جوار هم کرل کېږي.

په کاپیسا کې د یوزر او ۵۰۰ ټنه په ورتیا د یوې سترې او معیاري سړې خونې د جوړولو چارې پیل شوې.

د دې سړې خونې د بنسټ ډبره د ملي پراختیا شرکت مشر عبدالرحمان عطاش، د کرنې وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت‌الله غفوري او د کاپیسا والي عبداللطیف مراد له خوا کېښودل شوه.

دغه سړه خونه د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له خوا ډیزاین او د ملي تدارکاتو له خوا منظور شوې او د جوړولو چارې یې د ملي پراختیا شرکت ته ورکړل شوې دي. په همدې توګه د جوړولو چارې یې د عملیاتي څانګې له لارې تر سره کېږي.

ټاکل شوې چې په دې سړه خونه کې د پروسس یو مرکز هم جوړ شي.

دغه راز ټاکل شوې چې په ۱۰ ولایتونو کې ۱۲ سړې خونې، چې د هرې یوې ورتیا به یو زر او ۵۰۰ ټنه وي، جوړې شي.

د دغو سړوخونو د هرې یوې د جوړولو لګښت نږدې ۱۸۰ میلیونه افغانۍ دی. دغه جوړېدونکې سړې خونې په لمریزې برېښنا سمبالېږي څو سوداګر او بزګرانو ته لا زیاتې اسانتیاوې برابرې کړي.

یادې سړې خونې به تر راتلونکو دوو کلونو پورې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

**لوبې:**

په دې ولایت کې د دودیزو لوبو تر څنګ عصري لوبې لکه کرکټ، والیبال، فوټبال، وزلوبې او نورې رزمي لوبې هم تر سره کېږي. د دې ولایت کرکټ لوبډله پیاوړې او په ولایتي سیالیو کې ډېرې لاسته راوړنې لري .

**رسنۍ:**

په کاپیسا کې د دولتي رسنیو تر څنګ ځینې ازادې رسنۍ هم فعالیت کوي. د کاپیسا ملي راډیو- ټلوېزیون ۱۲ ساعته خپرونې لري، بهار شخصي راډیو او د نجراب راډیو هم فعالیت کوي. له صوتي او تصویري رسنیو سربېره، په کاپیسا کې چاپي رسنۍ هم شته لکه، د کاپیسا اونیزه، عصر تمدن، کوهساران او داسې نورې اونېزې.

**کلتور:**

په دې ولایت کې پښتانه، پشه‌یي او تاجک توکمونه اوسېږي. د دغه ولایت خلک د هېواد د نورو خلکو په څېر زیاتره ورته عنعنات لري، د کاپیسا خلک په خپلو منځو کې د مهمو ورځو نمانځل تر سره کوي ، دوی تاریخي او ملي عنعنات هم نمانځي .

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL
PRINTING CO

if You Can Think it, we Can ink it.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



دوشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ لسمه | ۵۷۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۳۷ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۹ | ۲۲ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۸ | لمر ختل ۰۵:۰۹ | ماسپښین 11:59 | مازیګر ۰۳:۴۳ | ماښام ۰۶:۴۸ | ماخوستن ۰۸:۲۱

## نړۍ




## تازه شمېرې: په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۲۰ میلیونو ته ورسېدې



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې لاهم په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې دي. د دغو شمېرو پر اساس په ټولو نړۍ کې تر دې دمه د کرونا ویروس ۱۹ میلیونه او ۸۹۴ زره او ۷۱۲ مثبتې پېښې ثبت شوې دي. د دغو شمېرو له مخې، د یاد ویروس تر اوسه ۷۳۱ زره او ۱۱۱ تنه مړه کړي او او نږدې ۱۳ میلیونه کسان ترې بېرته رغېدلي دي.

د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا وبا د زیاتو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا له مثبتې پېښې له پنځو میلیونو اوښتي او دغه راز ۱۶۵ زره او ۱۹۹ نور امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي.

په ورته وخت کې د امریکا د روغتیایي ارزونې او معیارونو انستیټوت وړاندوینه کړې چې که امریکایان ماسک ونه ترې او نور روغتیایي اړین تدابیر په پام کې ونه نیسي، د روان کال د سپټمبر تر لومړۍ پورې به په دغه هېواد کې د کووېډ- ۱۹ ناروغۍ په وجه د مړینو شمېر شاوخوا ۳۰۰ زرو کسانو ته ورسېږي.

د دغه انستیټیوت رییس کرستوفر موري ویلي چې که ۹۵ سلنه امریکایان د ماسک ترل پیل کړي، په همدې ذکر شوې موده کې به د ٦٦ زره کسانو ژوند وژغورل شي.

## د عراق پارلمان: عراق متحد هېواد دی او هېڅوک دې زموږ د تجزیې هڅه نه کوي

د عراق پارلمان د امریکایي چارواکو پر وروستیو څرګندونو غبرګون ښودلی دی. د دغه هېواد په پارلمان کې الفتح ګروپ وایي، امریکا د جان بولټن له خولې عراق او سیمې ته د تجزیې پیغام لېږلی دی.

د دغه پارلماني ګروپ د غړو په وینا، د امریکا دغه ډول څرګندونې د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف دي او عراقي وګړي یې غندي. د ګروپ غړو دغه راز زیاته کړې چې امریکا دې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې مداخله نه کوي او بولټن دې د عراق د تجزیې په اړه د خپلو څرګندونو له امله بښنه وغواړي. دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې د ولسمشر ټرمپ د ملي امنیت پخواني سلاکار جان بولټن ویلي وو چې د امریکا په حکومت کې یوه نظریه دا ده چې باید عراق تجزیه شي او د کردانو لپاره نوی هېواد رامنځ ته شي، خو دغو څرګندونو د عراقي وګړو غبرګون راپارولی او غندلي یې دي. د عراق پارلمان همدا راز زیاته کړې چې عراق خپل قانوني حکومت او اساسي قانون لري او هېچا ته به د هېواد د تجزیې اجازه ورنه کړو. د سرچینې په خبره، عراقي وګړو د هر ډول بهرنیو دسیسو پر وړاندې خپل یووالی ثابت کړی او امریکا دې د دوی د تجزیې خوب نهویني.

## گزارش ها: پناهجویان برگشته به بدخشان در وضعیت بد اقتصادی قرار دارند



فقرو تنگدستی، بیکاری و ناامنی در افغانستان پای حبیب‌الله ۲٦ ساله از ولسوالی ارگوی بدخشان به ترکیه کشاند. او می‌گوید که در ظرف یک ماه به سختی به ترکیه رسید، اما بیکاری و بی‌پولی مجبورش کرد که به بدخشان باز گردد.


حبیب الله می‌گوید که اکنون در کشور خود هم با سردرگمی مواجه است: «سه سال پیش ترکیه رفتم. در مدت یک ماه به بسیار مشکل رسیدم. در اول به ما یک برگه دادند و به اساس او کار کردم. در آخر صاحب کار پول‌مان را نداد. دوباره برگشتم. حالی در این جا هم کار نیست و به مشکل زیاد روبه‌رو هستیم.»

عبدالواحد طیبی، آمر امور مهاجرین ولایت بدخشان به رادیو آزادی گفته است که در جریان یک سال بیشتر از سه هزار مهاجر به بدخشان بازگشته‌اند: «در یک سال ما بالاتر از سه هزار نفری که شامل فامیلی و انفرادی هستند، ثبت اداره خود داریم. یک نهاد خارجی در اواخر سال ۲۰۱۹ برای هر فرد مبلغ ۱۸۰۰۰ هزار افغانی کمک کرد. به شمول عودت‌کنندگان و مهاجرین در چند سال بالاتر از هشت هزار نفر ثبت شده‌اند، اما آمار نشان می‌دهد کسانی که خود را در اداره ما ثبت نکرده‌اند، ممکن است به ۱۷۰۰۰ هزار نفر برسند.»

محمد ذکریای سودا، والی بدخشان اما می‌گوید که تلاش‌های روی دست است تا در آینده نزدیک حکومت محلی بدخشان به کمک حکومت مرکزی به مهاجران بازگشته کمک کند.

## ژوند


## له دندې سره مو مینه ولرئ



وروستیو څېړنو ښودلې، هغه کسان چې شتمن دي، دوی تر ډېره له خپلې دندې سره مینه لري، خو برعکس بېوزله کسان یوازې د خپلې دندې منفي برخو ته ګوري. له خپلې دندې سر ټکول هېڅکله تاسو د شتمن کېدو پر لورې نه شي بېولی. که له خپلې دندې سره مینه نه لرئ، بدله یې کړئ او یا هم د خپلې دندې مثبتو اړخونو ته فکر وکړئ. شتمن خلک خپلې روغتیا ته ډېر پام کوي. دوی په منظم ډول ډاکټر ته مراجعه کوي او د ژوند تېرولو لپاره سالمه تګلاره لري. د ورزش له ګټو خبر دي او په منظمه توګه ورزش کوي. څېړنو ښودلې، ۷٦ سلنه هغه خلک چې شتمن دي په اونۍ کې څلور ورځې ورزش کوي، سالم غذایي رژیم لري او د نشه یي توکو له کارولو ډډه کوي. خو هغه خلک چې خپلې شتمنۍ نه شي ساتلی، د ژوند تګلاره یې غیر منظمه وي، ورزش نه کوي، خپلې روغتیا ته پام نه کوي او تر ډېره په لاس کې شته پیسې پر نشه یي توکو او مزو چړچو لګوي.

## نوکیا نوی ځیرک موبایل وړاندې کړ

نوکیا کمپنۍ یو عادي ځانګړنې او ارزانه بیه لرونکی ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ. دغه ځیرک موبایل نوکیا سي۳ نومول شوی دی. دغه ځیرک موبایل زوړ ډیزاین او ۵،۹۹ انچه ایچ ډي پلس ډوله مخپاڼه لري او په کې اوکټا کور پروسېسر کارول شوی دی. دغه ځیرک موبایل ۳ ګیګابایټ رم او ۳۲ ګیګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا لري. کاروونکي د میموري کارټ په کارولو سره د فایل ثبتوني وړتیا ۱۲۸ ګیګابایټ پورې اضافه کولی شي. نوکیا سي۳ کې ۳۰۴۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ، ایف ایم رادیو، هېډفون جک او ګوګل اسېسټېنټ



هم ورکړل شوي او انډراېډ۱۰ عامل سیسټم سره خرڅلاو ته وړاندې کېږي. شاتنۍ برخه کې یوه ۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکې او مخکینۍ برخه کې یوه ۵ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره لري. د ګوتې نښې سېنسر د شاتنۍ کامرې لاندې ورکړل شوی. د دغه ځیرک موبایل بیه ٦۹۹ یوان (تقریباً ۷۸۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې ده.


ماستر ډېبټ کارټ

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.



www.azizibank.af | 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank